



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## انجينر محب الرحمن « خطيبي »

**د نشر نېټه : 24 سپتامبر 2015 م**

# دا وطن هم اختر غواړي

څه شوی ای اختره یو ځل ما خواته هم راشه
خندا دی ښه خوښيږي ته ژړا خواته هم راشه

هم لوڅ شوم،لیونی شوم، هم بدنام شومه
چی پټ شم دلاسا شم ته رسوا خواته هم راشه

سوغات ته منتظر يم ستا خبر نشته
خوښي غواړم که آوری ته ندا خواته هم راشه

ته خو می اشنا وی ډیر پخوا به هر کله راتلی
لاړی پسی لاړی اوس اشنا خواته هم راشه

خوښي لمانه تللی تک تنها یمه غمو سره
که هر خواته روان یی یوځل ما خواته هم راشه

هو نشته ګلان نشته،بوستان نشته سره ډاګونه دي
چی بیا ګل او ګلزار کړی ته بیدیا خواته هم راشه
***
محب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی